

# د پښتو د باغ ماليار ,,طاهر افريدے،،

رشيد احمد

ډېره موده مخکښې ماله چا د پښتو,, جرس،، مجله راکړه. ماچې اوکتله نو ډېره مې خوښه شوه او بيا به مې کوشش وو چې هره ګڼه يې اولولم. دغه مجله د کراچۍ نه په باقاعدګۍ سره خورېدله. دا خو هر چاته معلومه ده چې د پښتو په کتابونو ډېر کم خلق پيسې ورکوي. نو ددغه مجلې به څه مالي ګټه وه. خو کومه ګټه چې هغې اوکړه او کومه ګټه چې ئې پښتو ادب ته ورکړه هغه ډېره درنه ده. ځکه چې ډېرو لويو ليکوالو پکښې خپلې مقالې،مضمونونه، غزلې ،چاربيتې او هرڅه چاپ کول. دغه مجله طاهر اپريدي ترتيب کوله او شائع کوله. او اوس هر چاته معلومه ده چې کله هغه ضعيف شو او ناروغه شو،د بدن طاقت ئې ملګرتيا پرېښله نو دغه مجله بنده شوه. او اوس نه چاپيږي.

دغه مجله کښې د ډېرو ناوياته ليکونو نه بر څيره خاص نمبرونه هم شائع شول لکه غزل نمبر او نظم نمبر. زما ډېر خواهش وو چې چرته په مشهورو اصنافو به هم نمبرونه چاپ کړي خو شائد چې داسې به د څه مجبورو نه نه وي شوي. هم دغه جرس زما د طاهر اپريدي سره ورومبئ پېژند ګلو وه. زما دهغه سره چرته ملاقات نه دے شوے. زۀ شاعر نه يم نو ځکه چرته مشاعرو له نه يم تلے. خو زۀ د طاهر اپريدي د عظمت او سر لوړۍ قائل يم. ځکه چې هغه د پښتو ژبې ډېر خدمت کړے دے.

تر دې وخته د طاهر اپريدي د افسانو لس مجموعې،دوه سفر نامې،درې ناولونه،درې رپورتاژونه او نورې ډېرې مقالې اوليکونه چاپ دي. که په دې دوران کښې يې نور کتابونه شائع شوي وي ماته پته نشته.

د طاهر اپريدي ليکونه ټول دپښتنو د دود دستور او معاشرتي ژوند نه چاپيره چورلي. او هغوئ ته په دې بلندې وخت په وخت ايوارډونه هم ورکړے شوي دي. زما په خيال دټولو لويه خبره هغه خبر دے چې ايکسپريس ټربيون کښې خور شوے وو او ما په نېټ لوستے وو. هغه داوو چې د اکيډيمي اف ليټرز پاکستان سند له اړخه په کراچئ کښې په لا ئبرېرۍ کښې د ,,طاهر افريدي،، کارنر پرانسته اوشوه. دغه کتابتون له دخراسان ادبي ټولنې له اړخه ګڼ شمير کتابونه ورکړے شوي وو. او د اکيډيمۍ د هغه وخت علاقائي ډائريکټر وئيلي وو چې مونږ به د طاهر اپريدي د پنځوسو کالو ادبي خدمات ستايو. او پروګرامونه به پرې کوو. دا د هغه لوړ قامت دے چې د هغه دپښتو ژبې د خدماتو په اعتراف کښې ادبياتو د سند څانګې اوکړو. محترم طاهر اپريدے په پښتو او اردو دواړو ژبو کښې ليکل کوي. ولې پښتو ته يې زيات څۀ ورکړي دي.

د دغه خبر نه وروستو زما خيال وو چې په پښتونخوا کښې به هم څوک داسې ګام واخلي او نه يوائې ددغه اتل بلکې د هغه ټولو ښاغليو يادونې به اوکړي څوک چې په خپلو وينو د پښتو ادب روزنه کوي. خو افسوس دے چې مونږ هميشه مړي ستايو. او بيا دمړو په نوم نمړۍ پيداکوو.

دا دپښتو د باغ مالياران دي. ترڅو چې ددوي په بدن کښې وينه وي نو دوئ ددې باغ خصمانه کوي خو چې په بدن کښې ئې وينه اوچه شي نو بيا د ټول قام فرض جوړيږي چې ددې ماليارانو خدمت اوکړي او اوئې ستائي او د هغوئ هغه ګلونه ، چمنونه تازه اوساتي او ورسره ورسره ماليار هم هير نه کړي.

زمونږ دعاده چې الله دې محترم طاهر اپريدي له ښه صحت ورکړي. او د تکليف نه دې لرې اوساتي. امين.